# رسنۍ په اونۍ کې/ د نومبر لومړۍ اونۍ

دا اونۍ له بده مرغه خبریالانو ته له اقتصادي ستونزو ورهاخوا، د خوندیتوب برخه کې هم له ستونزو سره مله وه. چې د رسنیو، خبریالانو او له خبریالانو د ملاتړ بنسټونو د اندیښني یې زیاتې کړې دي. لومړۍ قضیه د لړم په ۶مه وه چې د خامه پریس خبریال عبدالخالق حسیني د کابل د نهمې حوزې په ساحه کې د وسله والو کسانو لخوا ووهل شو. بله قضیه بیا د لړم په ۷مه پیښه شوه چې په لوګر ولایت کې د مهال راډیو رییس زاهدالله حسین خیل، د اسلامي امارات د سرتیرو لخوا ونیول شو او وډبول شو. دریمه پیښه بیا د لړم په ۸مه وه چې د ایران د صدا وسیما خبریال علیرضا شریفي باندې د وسله والو له لوري مرګونی برید وشو او له امله یې نوموړی سخت ټپي شو. د لړم په اتمه دغه راز د راه فراد ټلویزون خبریال حسین احمدي په کابل کې د پاسپورټ ریاست پروړاندې ونیول شو او د هماغې ورځې په له غرمې وروسته بیرته ازاد کړل شو. د همدې میاشتې په ۱۳مه د مشرانو جرګې ټلویزون د تخنیک برخې کارکونکي محمد هارون، د اقتصادي ستونزو له امله ځان زیندی کړ او ومړ.

دغه راز د هیواد له یوشمیر ولایتونو او زونونوڅخه د را رسیدلو ریپوټونو له مخې د خبریالانو او رسنیو پروړاندې ستونزې په دې ډول دي:

## ختیځ زون

**لغمان:** د کمېټې د ولایتي همکار او مرکزي دفتر په هلو ځلو تېره اوونۍ د خوښۍ خبر دا و چې لغمان ولایت کې د یو طالب قوماندان له لوري د یوې راډیو یرغمل شوی دفتر خوشې شو او دغې راډیو بېرته پر نشراتو پیل وکړ.

لغمان کې د خیبر نوښت راډیو چې د تېر نظام له سقوط سره سم یې دفتر د یو ځایي طالب قوماندان له لوري نیول شوی او نشرات یې بند شوي وو، د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې د پرلپسې هلو ځلو په پایله کې چې دغه ستونزه یې د لغمان ولایت اطلاعاتو او فرهنګ ریاست، ولایت مقام، امنیه قوماندانۍ او د کورنیو چارو له وزارت سره له نږدې تعقیبوله، بلاخره د نومبر په ۱ یاد قوماندان د راډیو د دفتر له ودانۍ ووت او راډیو بېرته خپل نشرات پیل کړل.

**ننګرهار:** د تېرې اوونۍ د پنجشنبې په ورځ (د اکتوبر په ۲۸) د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې له لوري ننګرهار کې د وژل شوي خبریال سید معروف سادات کورنۍ سره لیدنه وشوه او د کمیټې یوه اندازه نغدي مرسته ورته وسپارل شوه.

په دغه ورځ ختیځ کې د کمېټې استازي د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ رییس سره د خبریالانو پر ستونزو خبرې وکړې او له هغوی څخه یې غوښتنه وکړه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي.

دغه راز په همدې ورځ د کمېټې استازي د ننګرهار د والي له ویاند سره هم په ورته ناسته کې د خبریالانو پر ستونزو خبرې وکړې.

**کنړ:** په ختیځ کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي یوه پېښه په کونړ ولایت کې ثبت شوې چې د اکتوبر په ۳۰مه د پژواک خبري اژانس خبریال قضافي مل په یو روغتیایي ریپوټ جوړکړی و چې په هغه کې د روغتون د رییس نظر اخستی و چې بیا د عامې روغتیا رییس غبرګون وښود او په دې خاطر چې دده نظر نه دی اخستل شوی خبریال یې ګواښلی و. چې د کمیټې د سیمیز همکار په مرسته ده ستونزه اواره شوه.

په دغه زون کې دغه راز اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې لا هم ستونزې پر ځای پاتې دي، د بیلګې په توګه په ننګرهار کې چې دغو ورځو کې د نا امنۍ پېښې پکې ډېرې شوي دي، هېڅ چارواکی د پېښو په تړاو معلومات نه ورکوي او خبریالان اړ دي چې د عیني شاهدانو له قوله ریپوټونه جوړ کړي.

## سویل ختیځ

**پکتیا:** په دې اونۍ کې په پکتیا کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي کومه فزیکي ستونزه نده رامنځته شوې، خوځینې وخت له یو شمیر ادارو سره د معلوماتوپه ترلاسه کولو کې ستونزه شته. ډیری ادارې د معلوماتو د ورکړې په سیستم نه پوهیږي.

په تیرو دریو میاشتو کې د پکتیا غږ، ښځو غږ او تحلیل په نامه راډیو ګانې او د پکتیا غږ، جګړ او تخیل په نامه اخبارونه بند شوي. خو تر اوسه پورې کومې رسنۍ بیرته نشرات ندي پیل کړي.

په پکتیا کې شاوخوا د راډیوګانو او اخبار ۳۰ خبریالان بې دندې شوي دي.

پخوا په دې ولایت کې دوه ښځینه خبریالانو ددندې ترسره کولې، خو اوس نشته.

**پکتیکا:** په وروستیو هفتو کې په پکتیکا کې څلور سیمه ییزې راډیوګانې تړل شوې دي.د تلوسې په نوم یوې راډیو بېرته خپل نشرات پیل کړي او پاتې هغه یې همداسې لا پاتې دي.شاوخوا شل د رسنیو کارکوونکې او خبریالان وزګار شوي.

هغه مقررات چې د هېواد په کچه وضع شوي، هغه یې دلته پکتیکا کې هم وضع دي،د مثال په توګه، پرته د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس نه بل چاروآکی او د کومې ادارې مشر له خبریالانو سره معلومات نشي شریکولای.

**خوست:** رسنی تر بل هر وخت له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي او ویره شته که دغه اقتصادي ستونزې یې همداسې وکړي یو شمیر رسنی به خپل فعالیت بند کړي.

- خوشبختانه په دې ولایت کې په دې وروستیو څو میاشتو یا د اسلامي امارت په راتګ سره هیڅ یوې رسنی تر دې وخته نشرات نه دي تړل شوي خو تر لسو پورې خبریالانو او رسنیزو کارکونکو په دې ولایت کې دندې له لاسه ورکړې دي.تر ۱۲ خبریالان له خوست ولایت څخه نورو ولایتو او هم خارج هېوادونو ته وتلي دي.

رسنیو ته د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لورې په ځانګړې ناسته کې ویل شوي دي چې په خپرونو کې به د نجونو ټلیفونونه نه ځوابوي، د جمهوریت د وخت د ملا امامانو بیانونه به نه خپروي، سندرې به نه خپروي او په تفریحي خپرونو کې به کموالی راولي او پر ځای به یې د اسلامي امارت د پالیسی او غوښتني مطابق دیني خپروني، حمدیه او نعتیه کلامونه خپروي.

په اوس وخت کې هیڅ ښځینه خبریاله دلته په کومه رسنی کې دنده نه لري.

**لوګر**: د خبریالانو خوندیتوب، مالوماتو ته نه لاس رسی، هغه څه دي چې روانه اونۍ هم لوګر ولایت کې خبریالان له یادو ستونزو سره لاس او ګیروان وو.لوګر ولایت کې په تیرو دوه میاشتو کې درې رسنی تړل شوي دي، چې یوه یې د اتفاق په نوم د ملي اردو راډیو او بله هم د اطلاتو او کلتور ریاست چاپیزه رسنی ( لوګر جریده ) چې تړل شوي دي او په اړه یې له کمیټې سره په وخت مالومات شریک شوي دي.

روانه اونۍ په لوګر ولایت کې هیڅ رسنۍ خپل فعالیت ندی پیل کړی.لوګر ولایت کې د اسلامي امارت له واک ته رسیدو سره سم شاوخوا ۲۵ تنه خبریالان وزګار شوي دي.

لوګر ولایت څخه شاوخوا ۱۰ خبریالان له ولایت څخه وتلي دي چې د دې له ډلې څخه یې دوه تنه له هیواد څخه بهر ایران او امریکا ته تللي دي.

د اسلامي امارت له لورې رسنیو ته ویل شوي چې د اسلامي احکامو له مخې باید نشرات وکړي او هغه خبري موضوعات چې رسنی ورباندې کار کوي له نشر څخه وړاندې د اسلامی امارت له فرهنګي او مطبوعاتي مسؤلینو سره شریک شي.

لوګر ولایت کې یوې ښځینه خبریالي کار ترسره کولو، چې اوس هغې هم د طالبانو له ویرې خپله دنده پریښې ده.

## شمال

دا اونۍ د هیواد په شمال کې د خبریالانو او رسنیو پروړاندې کومه د تاوتریخوالي پیښنه نده ثبت شوې. خو اقتصادي او امنیتي ستونزې لا هم شته.

**بلخ** : دغه ولایت کې ګڼې حکومتي اداري ویندویان نه لري او د معلوماتو اخستلو لپاره هیڅ لاره وجود نه لري. نظامي مراسم د بلخ د ملي ټلویزون له لارې خپریږي چې بیا یې وروسته د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست سانسور شوې بڼه نورو خبریالانو ته په واک کې ورکوي.

**جوزجان** : د مهران په نامه نشراتي شبکې چې ددغه ولایت د سقوط پر مهال زیانمنه شوې وه او نشرات یې دریدلي وو، دا اونۍ یې بیرته خپل نشرات پیل کړل. له دې سره په دغه ولایت کې د فعالو رسنیو شمیر څلورو ته ورسید.

**سمنګان** : په دغه ولایت کې یوازې د حقیقت او شهروند په نامه دوه راډیوګانې فعالي دي. نورو یې خپلې خپروني درولې دي.اطلاعاتو ته نه لاسرسی ددغه ولایت د خبریالانو او رسنیو له اصلي ستونزو څخه ده.ښځینه خبریالانې دغه ولایت کې هم د کار کولو اجازه نه لري.

**فارياب :** ميمنه راډيو، تمنا راډيو، ممتاز راډيو او صحت راډيو د فارياب ولايت په مرکز ميمني کي فعاليت لري چې ټولي خصوصي راډيو ګاني دي.ددغو راډيوګانو مسوولين وايي که چيرې ورته پام ونشي بنايي د اقتصادي ستونزو له امله خپلې رسنۍ وتړي.

## شمال ختيځ

**کندز:** په کندز کي د خصوصي رسنيو مسوولينو دا اونۍ يو مکتوب چمتو کړی دی چې د رسنيو ملاتړو بنسټونو ته يي وسپاري تر څو هغوی له حکومت سره ددوی د مالياتي جريمو او بريښنا د بيلونو په اړه خبرې وکړي. دغه د رسنيو مسوولين وايي چې بريښنا يې بايد له تجارتي څخه عادي ته واوړي او مالياتي جريمې بايد ورته معاف شي.

**تخار:** دا اونۍ په دغه ولايت کې د دانش په نامه يوه غړيزه رسنۍ د اقتصادي ستونزو له امله خپلې خپروني درولي دي.

ددغه ولايت د خبريالانو او رسنيزو کارکونکو په ډيټابيس کې شاوخوا ۱۰۰ کسه ثبت دي چې شاوخوا ۲۵ هغه يې وزګار شوي دي.

دا اونۍ هم د تيرو اونيو په څير تر ډيره اطلاعاتو ته نه لاسرسی او اقتصادي ستونزې د خبريالانو او رسنيو کارونه له ستونزو سره مخ کړي وو، خو امنيتي او مصونيتي ستونزې هم ورسره ملې وې.

يوه ستونزه چې دلته د خبريالانو د خونديتوب لپاره يې يادول اړين دي هغه داده چې په دې وروستيو کې يو شمير خلک خبريالانو او مدنی فعالينو ته زنګونه وهي او ورته وايي چې ستاسو کيسونه قبول شوي او سبا يا نن ستاسو پرواز دی. دغه شان يوه پيښه په بلخ ولايت کې رامنځته شوې او څلور مدنی فعالانې په دې ډول تېښتول شوي، وژل شوي او مړي يې يوه جر کې غورځول شوي دي. هيله ده چې خبريالان او د رسنيو درانه کارکونکي دغه شان مسايلو ته ډير متوجه واوسي چې خدای مکړه له کومې بدې پيښې سره مخ نشي.